

برمته شوی مینه
لیکوال:سیاد ادریس "سادات"
الهام
FACEBOOK
ناول
EL Ham

# برمته شوې مینه ناول

لیکــوال

سیــــد ادریس [سادات]

تـرتیب او ډیزاین

سهیل شفیق

__________________________________________________

ناول:برمته شوی مینه

لیکوال:سیدادریس"سادات

ډیزاین :خپله لیکوال

ترتیب کوونکی:دښار هلک

,دلیکوال نشر شوي اثار:دننګرهارمینه,بی پروا انجلۍ,ناځوانه انجلی

رنځورخامار,دسپین غرزخمي مرغۍ,مغروره هلک,مسافره پیغله,ماته میکده,دتورخم لار او واده

.داټول ناولونه او خوندوری قیصی دي

دنشر څخه پاتی اثار:لوی امپراتور ابدالي بابا

ایمیل:King.adil.rs@gmail.com

غوښتنه:دداسی ښکلو کتابونو غوره لیکنو شعرونو او نثر لوستلو لپاره درسره په واټساپ کی سادات کتابتون جوین کړی په لاندی لینک کلیک .👇👇👇👇وکړی او جوین شۍ

https://chat.whatsapp.com/KXxowf0dlHRDKRmRR1QHSz

________________________________________

ډالۍ

ګران ملګري مسیح الله

عظیمي ته الله تعالی دی

ده اودده کورنۍ ته

اجرونه ورکړي

ته خبر يي ای لوستونکیه ته چی وس داقیصه لولی ایا

دافکر دی کړی چی دهغو میندو په زړونو به څه

تیریږي چی تازه اوخام بچي ورڅخه ورک شوي دي

دهغه پلار په زړه څه تیریږي چی خام بچیان یي

ورڅخه ورک شي ایا په دی پوهیږی خدای ناخواسته

که ستا کوم بچی دغسی ورک شي ایا ژوند به خوند

درکړي ته چی اوس داسی په آرام ناست یي او کتاب

لولی ته خبر یی داسی یوه ورځ زما پلار هم کتاب

لوسته زما ورور هم زما ډیره لویه کورنۍ وه چی

ماورسره دخپل ځان څخه زیاته مینه درلوده.

هغه ټول راڅخه زما سپیره قسمت واخیسته آیا زه

. خالي دسوال کولو لپاره پیدا شوی وم

آیا زه صرف ددی لپاره پیدا شوی وم چې سوال وکړم

په جوماتونو کی بیا راته په جومات کی خلک دبالا

.خانې بلنه راکړي

ترڅو خپله جنسي غریضه پوره کړي تاسی نه به

خدای پښتنه نکوي چې تاسی خپلی لونړې پخپلو

کورونو کی دحیا په جامو سمبال ساتلی وې مکتبونه

مو پری ویل کورسونه مو پری ویل خرچی به مو

پری کولی صفا مو ساتلی تر څو کومه خه کورنۍ

ورپسې جرګه راولیګي مګر دهغې انجلۍ ژوند ته مو

خیال نه وو چې هره ورځ ورته په جماعت کی د زنا

بلنه ورکول کیده دامسلماني به زه چیرته یوسم

داشیخان چې وس په ننګرهار کی وسیږي ایا دوی به

خدای په دی لویو ږیرو وبښي هغه خلک چې اوږده

اوږده بریتونه پریدي او ځانته زړور پښتانه وایي ایا

پښتو همدا ده چې ستا ګاونډ کی یوه انجلی باندی هره

. ورځ تیرې کیږي تاسی تری خبریږۍ هم نه

نن ماته موقع برابره شوه چې ټولو خلکو ته دخپل

ژوند دردوونکې قیصه وکړم او زما پشان به ډیری

نوری پیغلی هم همداسی وي چی په ننګرهار او

قندهار کی پری وس هم تیری کیږي دوسني حکومت

نه زه غوښتنه کووم چی دخدای لپاره دغه ظالمان

بنديان کړي او خپله سزا وګوري.

مننه دسیدادریس سادات څخه چی زما کیسه هره ورځ

لیکي اصلا زه يي ورته په عادي ژبه په وایس کی

لیګم هغه ورور يي يوه يوه برخه لیکي او دخپلی

صفحی څخه يي نشروي سادات صیب ته دی رب

العزت جنتونه ورکړي .

دژمي يخه هوا په قندهار کی دارغنداو يخه سيلۍ او

دشپی يوه بجه دانسانانو خاموشي او دسپوږمۍ رڼا

نيمه شپه ده دوړيو نه په جوړه شوی شړۍ کی می

پښی ننباسلی وی هيڅ خوب نه راته اخر راووتم

بيرون زموږ کور يو ښکلی حوض درلود په حوض

کی رنګارنګ ميانو دخپلو جوړو سره يوځاې

خوندونه اخيستل دحوض په څنګ کی دپرتې ګل دانۍ

نه می يو ګول پری کړ يوه يوه پاڼه می يي په حوض

.کی وراچوله دګل پاڼې ختمې او ګل می هم ورختا کړ

دامهال زما عمر اته کاله وو دسړو له وجې می دخپلی

مور غټ پړونې له ځان څخه تاو کړی وو دهر ډول

نعمت په شتون کی بیاهم د خپل ژوند څخه نارازه وم

ګیلې مې کولې دی حوض ته لومړی می ورته وویل

چی ته وګوره کنه زما بوټان نشته پلار می ددومره

شته وو سره سره راته بوټان نه اخلي بیا می ورته

وویل وګوره کنا زه دسر لپاره ړمنځ نلرم دامی

لومړی ورځ نه وه چی دی حوض ته می دخپل ژوند

قیصه کوله بلکی هره ورځ به زما دسترګو اوښکی

ددی حوض میلمنی وی او زما داوښکو ډیر خه

استقبال به يي کاوه.

خو پدی ورځ می پریکړه وکړه چی نن نه وروسته

دی حوض ته نه ژاړم بلکی که ددی حوض پرځای

خپل رب ته وژاړم کم از کم زړه ته خو به می سکون

پیدا کیږي.

ځکه نو پریکړه می وکړه چی نن شپه به دتهجد لمونځ

کووم او خپلی تولی ګیلې به دخپل خالق ته اوروم په

همدی شپی می څلور رکعته نفل وکړل او خپل رب ته

می خی ډیری ګیلي وکړی.

او په ډیره ژړا کی خوب راغی بیده سوی وم هر کله

چی سهار راپاسیدم ګورم پلار می سر ته ولاړ دی او

بوټان ساعت جامی او یو ښکلی بنین یي په لاس کی

.وو

مامی پلار څخه وپوښتل:پلار جانه تاسی څنګه پوه

.سواست چی زما اړتیا صرف دغو څیزونو ته وه

پلار می وویل:بیګاه له خوبه یو دمي راپاسیدم په تا

می سترګی ولګیدلی چی له خدایه څخه دی غوښتنی

کولی زما نازولی تاماته ولی نه وویل چی زه دغه

توکو ته اړتیا لرم ایا ستا پخپل پلار دومره باور نه وو

.

ماورته هيڅ ونه ويل ما خپله خوشحالي هم پخپل زړه

کی ولمانځله موږ انجونی همداسی یو هم خپل غم په

اوښکو لمانځو اوهم خپله خوشحالي خو خير تراوسه

پوری می حوض ته فريادونه اوګيلی کولی هيڅ يي نه

راکول مګر يوه ورځ چی خپل خالق ته په سجده سوم

زما ټول ارمانونه يي راپوره کړل مينه نوره سنګه

وي هغه خلک چی هره ورځ ګناهونه کوي په فساد

اخته دي په بی لاريو اخته دي بيا هم ورته زموږ خالق

هر سهار دفرښتو په لاسونو رزق راليږي.

زه ډیره کوچنۍ وم دامهال دښوونځي ددورې په دوهم

صنف کی وم زموږ کندهار دښکلاو او رنګینیو نه

ډک ښار دی پدی ښار کی واقعأ چی دښوونځي هم

خپله مزه وه او دلوبو هم اصلا ما به دخپلو همزولو

انجونو سره لوبی کولی خو دومره خوند یي نه کولو

لکه څومره خوند چی به د سحاب دکرکټ په لوبه کی

و.

زه به هر سهار دسهاب دلوبی دننداری لپاره له کوره

راوتلم او دبر چنار نه هاخوا دګل کاکا د پټي ته څیرمه

دالان کی به دسحاب دلوبی دننداری لپاره ورتلم.

ترڅو دهغه لوبه ووینم ماته واقعأ چی دسحاب لوبی

!ډیر خوند راکاوه

ځکه چی سحاب زموږ دمهلی نامتو دکرکټ اتل وو او

.له رنګ ښځه هم لږ خه وو

واقعا چی زما پخپل ژوند کی داتر ټولو لوی ارمان وو

.چی دسحاب سره ووینم خو هیڅ موقع نه برابریده

ځکه چی هغه به دملګرو سره تل یو ځای وو او هیڅ

!وخت ما هغه یواځی ونه موند

دجنوري په ځلورویشتمه زموږ دچنار په خوا کی یوه

لویه لوبه جوړیده چی په هغی کی سحاب هم وو

دی لوبو ته يي ټورنمنټ وایه خو ماسره می خپلی

ملګری تمنا وعده کړی وه چی دټورنمنټ نه به

مخکی زما ملاقات دسحاب سره کوي.

هماغسی وهم شول او دورځو نه یوه ورځ ماته تمنا

وویل چی سبا به د شین غر په لوړه څوکه کی تاته

سحاب په انتظار وي ته دسحاب سره هلته ملاقات

کولای شی.

زه دهمدی ورځی په سبا ولاړم تر څو دشین غر

لوړی څوکی ته وخیژم زما عمر دومره نه وو اونه هم

دهلک او انجلی په دی بی زایه کیسو پوهیدم ځکه چی

!داتو کالو وړه انجلی به داشیان څه وپیژني

دشین غر لوړی څوکی ته په رسیدو راته شین غر ډیر

وحشت ناکه غر وبریښید خدای شته ویره می هم

ورڅخه وشوه.

خو دسحاب لپاره باید ددی غره لوړی څوکی ته

ختلای وای ځکه چی سحاب به ماته پورته لوړ په

غره کی انتظار کوي.

زه وروانه سوم دلبر مزل څخه وروسته دغره اخیري

برخی ته ورسیدم یو نا اشنا منظر می وکوت دغره په

سر بی پایانه نفر پداسی حال کی ولاړ وو چی پوزی

. يي پټی وی

او يو انسان يي حلالوه اوف زه څنګه داخبری کوم

ډيره سخته ده خو په هر حال دی انسان خوړونکو زه

ونيولم

زما لاسونه يي وتړل ماډير هاخوا او ديخوا وکتل خو

.دسحاب هيڅ درک ونه لګيد

او دهمدی ورځی څخه زما دبربادۍ ورځې شروع

😢سوی

زه يي روانه کړم پدی کم عمر کی يي هم زما هيڅ

پروا ونکړه

ددی خلکو نه پښتو غیرت افغانیت او مسلمیت کډه

کړې وه.

داتو کالو په انجلی یي داسی ګذارونه کول چی والله که

یي څوک دکافر په لور او خور هم وکړي.

ډیر مزل مو وکړ زه ډیره سخته ستړی شوم زه دپلار

یوه نازولی لور وم .

مادومره مزل کله نه وو کړی خو هرکله چی لږه

کښیناستم نو دشاخوا نه دپیپ دروند ګزار راباندی

وشو داسی ګزار ما کله نه وو خوړلې ځکه می نو په

ژړا پیل وکړ .

دهری سلګۍ سره به یی یو یو پیپ ګزار راباندی په

داسی ځای کاوه چی دلته یي ذکر کول ډیر بد دي اخر

غلي شوم خو تګ راته مشکل وو هغه داغونه زه وس

هم په بدن لرم وروسته خو خه وو ورسره اموخته

شوم خو دلومړني وخت درد زه دقیامت په ورځ هم

نشم هیرولای.

داوړد مزل څخه وروسته یوځای ته ورسیدو دداسی

انسانانو بویونه دلته وو چی ما به ور څخه پخپل

مکتب کی لا نفرت کاوه.

زما سترګی پټی وی یو وخت یي داسی ځای ته بوتلم

چی رڼا بیخي ورکه شوه نور یي هم مخکی بوتلم یو

وخت می دنورو ماشومانو غږونه واوریدل چی

فریادونه یي کول.

زه یي هم دهغی ماشومانو سره په یو ځای کی

وغورځولم او دوي رانه لاړل مافکر کاوه لکه زما

ملګرې او سحاب راسره دوکه وکړله خو نه داسی نه

وه سحاب یي زما نه مخکي دلته راوستې وو.

اوف څومره سټړی دنیا ده کنه تر اوسه می دالوی

ارمان وو چی دسحاب سره مخامخ شم خو هر کله

چی دهغی سره یوځای شوم نو ژوند راباندی خپلی

خلاصی دروازی بندي کړی.

ما سحاب دلری ځایه ښخه ولید هغه یي زمانه ډیر

وهلی وو زما دهغه په مخ داغونه وس هم یاد دي هغه

یي هیڅ تاب نه لاره هغه زمانه ډیر نازولی وو هغه

به خپل پلار مکتب ته په موټر کی بیوه البته تو ډي

موټر سحاب هم پوره دلسو کالو وو.

زه دسحاب خواته ورغلم دهغه سره په ښنګ کی

کښیناستم سحاب پداسی حال کی راته وویل چی

سنترګی یي تیټی وی ولی دی راسره داسی وکړل آیا

ماستا پلار ته کوم ضرر رسولی وو یا تاته

ماورته وویل:نه سحابه زه به ولی داسی کووم او بیا ته

?فکر نکوی چی زه ولی دلته راوستل سوی یم

سحاب د لږ ځنډ څخه وروسته وویل;نو فکر کووم

زموږ لپاره ټوله طرحه ستا هغی ملګری جوړه کړی

.وه ځکه خو هغه دلته نسته

ما ورته وویل:زه نه پوهیږم خو داخلک اخر زموږ

.څخه څه غواړي چی موږ يي دلته راوستي یو

سحاب وویل :زه هم نه پوهیږم

که څه هم زندان وو خو ډیر خوندور زندان وو هر کله

چی زه دسحاب سره وم ما هیڅ دسختۍ احساس ندی

کړی بلکی سحاب خو ځو ځلی زما وهل هم پخپله

خوړلي دي.

موږ يي يوه هفته وروسته لکه دحيوانانو په شان ټول

په يوه کانټينر کی واچولو او يو نفر هم راسره

کښيناست هر ماشوم چی به ځونګ هم کاوه دپيپ

ګوزار به يي خواړه زه هغه وخت نه پوهيدم ځکه ما

ويل چی دوي ولی غواړي زه او ټول ماشومان چوپ

واوسي خو اوس پوهيږم دوی ويل هڅی نه چی په

لاره کی پړی څوک شک وکړي.

موږ يي داوږده مزل کولو څخه وروسته تر ننګرهاره

راورسولو زه او ټول ماشومان يي همدلته له کانټينر

څخه بنکته کړو او په زور يي دننه بوتلو دننه يي

دکانټينر پشان يو بل ځای وو هغی کی واچولو.

موږ پوره يوه ورځی ډوډۍ نه وه خوړلی او سوالونه

به مو ورته کول ترڅو موږ ته څه راکړي خو دوی

موږ ته هيڅ هم نه راکول دا کانټينر دهغه بل په پرتله

څه وو ځکه چی يو قالين او يو بلښت پکی وو بس

همدا کانټينر مو ځای شو هغه پخواني خلک راځخه

ولاړل او دهمدی ځای ظالمانو ته يي پريښودلو

دپخوانيو سړيانو نه يو تن هم دلته پاتی شو او نور ټول

لاړل دهغوي دموټر ټیرونه ډیر په چټکی تاو شول او

چی تر کومه ځای ښکاریده موږ ورکتل ځکه هماغه

موټر وو چی زموږ ځای ورته معلوم وو خو موږ

پدی نه پوهیدو چی موږ ته ډیر بی خونده ژوند مخی

ته پروت دی لومړۍ باید داژوند پایې ته ورسوو.

دلته ډیر نور واړه هلکان او انجونی هم وی او موږ

یي هم دهغوي سره یو ځای کړو زه او سحاب به یو

ځای خیرات غوښتلو لپاره تللو موږ ته به یي مخ په

موبلیلو تور کړ او لګ موبلیل به یي په جامو هم راته

واچول

.تر څو ریښتیني فقیران معلوم شو

مور به مکتبونو جوماتونو او په لارو کی ګرځیدو

ورځنی هدف مو دوه سوه روپۍ وو که به مو داورته

رانه وړی بیا به یي ډوډۍ هم نه راکوله او په پیپ به

.یي هم وهلو

خو سحاب به اکثر وخت زما پر ځای هم وهل خوړل

هغوي هم ورسره منله فکر کووم ځکه به یي ورسره

منله چی هغوی همدا غوښتل ترڅو دوي په هره لاره

. پیسی پیدا کړي

یوه ورځ ما او سحاب دکانتینر څخه سهار وختي

راووتو تر څو خپلی خپلی دوه سوه روپۍ پوره کړو

ماوکتل چی په همدی سهار زما په عمر انجونې مکتب

ته روانی وی دخپلو ملګرو سره یي ټوکې کولی خندل

.یي او خوند یي اخیسته

خدای شته ماته دی منظر ډیر خوند راکه ما هم

وغوښتل لږ څه وخاندم ځکه می نو سحاب ته وویل

سحابه هاغه انجلی وګوره څنګه تکه توره ده سحاب

حیران شو خو ماورته وویل حیرانیږه مه سحابه خیر

.دی که پخپل ژوند کی هیڅ نلرو خندا خو لرو کنه

بس چی دغه لوی قیمت هم راسره شته دخدای هزار

بار شکر دی .

شکر چی سترګی لرو غوږونه لرو همداسي خدای خو

په موږ دهیڅ نعمت بندیز هم ندی لګولی موږ هڅی

خفه یو.

داخبره چی می سحاب ته وکړه په سترګو کی یي

😭!اوښکی ړنډ شوی ماورته وویل ;سحابه ولی

ویل یي همداسی موږ هر نعمت لرو خو کاش یو

😭نعمت بل مو هم درلودای

ماورته وویل:څه ویل یی :مرګ

کاش موږ یا بیخي پیدا شوي نه وای او یا هم وس مړه

. شو که مړه شو کم از کم ارامه خو به یو

هم به دځوانۍ دګناهونو څخه خلاص شم هم به مظلوم

مړ شم.

او دماشومتوب په سختیو می امکان لري خدای وبښي

.

فکر کووم که مړ شم تر قیامته به ارام ویده یم او

هرکله چې دقیامت ورځ شي خدای به راسره سوال او

ځواب کوي خو زه به ورته لومړی ددی بی غیرته

. خلکو نه شکایت کووم

او بیابه ورته داووایم چې یا ربه ماته دی خالي یوه

اسو راکړی وه او که دهغی حساب راسره کوی نو

شکر دهغی وهل هم زه تل خورم او هیڅکله یي هم په

سترګو کی اوښکی نشم زغملای.

ځکه نو زه درته وایم چی اوښکې دی پاکی کړه او

رازه چی خپل کار ته ولاړشو.

ریشتیا هم ماچی خپلو سترګو ته ګوتی یوړی نو ډوند

اوښکی پکی پرتی وی سحاب راسره یوځای په لاره

روان وو هرچاته به مو سوال کاوه اکثرو هلکانو به

ماته په غلط نظر کتل خو هرکله به یي چی دسحاب

سترګی وکتلی نو شاته به شول او په مخه به ولاړل.

ما دسحاب څخه پوښتنه وکړه :سحابه ولی خدای

یوازی موږ ددی مشکلاتو لپاره پیدا کړي یو.

اونوری ټولی انجونی يي دارام او هوسا ژوند لپاره او

هلکان هم همداسی درواخله.

سحاب وخندل او په خندا کی يي وویل ته داخبری

پریږده اورازه چی نن یوه ورځ خپل مرګ ته

ورنږدی کړو.

زه دسوال په غوښتلو او دخلکو دبوټانو په پالش کولو

کی دولس کلنه سوم او سحاب هم زلمې شو زما

دسحاب سره دځان نه زیاته مینه وه او هغه هم راته

همداسی معلومیده.

موږ به کله کله خپلی دوه سوه روپۍ دوخت نه مخکی پوره کړی لکه کله به چا یو دم زکات راکړ یا بل څه بیابه نو ټوله ورځ ما اوسحاب دکوم غر په سر یوځای کښیناستو اودکندهار قیصی به مو کولی.

هر کله چی به موږ دار غنداب یخه هوا رایاده کړه نو دننګر هار ګرمۍ به مو له وجود څخه کډه وکړه.

په هغی قیصو کی هم بلها خوند پروت وو ځکه چی په سختۍ کی دراحت کیسی هر انسان ته ډیره مزه ورکوي.

ماته به سحاب ويل ته خبره يي اسيه زه به تاپه ټول

ژوند کی هم يوازی پرينږدم او که مړ شوم نو بيا به

می ته ښنی ځکه چی مرګ او ژوند ديوبل چا په لاس

کی دي.

زموږ هره ورځ که څه هم بی پلاره بی موره بی

کورنۍ او حتی بی خونده وه خو دسحاب تر څنګه بيا

هم داسی وه لکه د سروزرو مرغۍ

سحاب پر ما ډير زيات ګران وو يوه ورځ هغه راسره

د کابل هډی دنهر په خوا کی ناست وو زيړ مازيګری

وو خپلی پيسی مو پوره کړی وی.

سحاب ویل :ته زما دژوند ښکلا يي شکر چی ته

راسره يي که ته نه وای مابه داسی سخت وختونه

ځنګه تیرولای.

سحاب شنی سترګی لرلی اوس مهال يي باډي هم خه

برابره وه مور یو څه وخت کښیناستو خو یوه شیبه

وروسته زمور داکنټینر موټر راغی او سحاب يي په

زوره دځانه سره کیناوه او ولاړل.

زه دسحاب نه بغیر دالومړي ځل وو چی کانټینر ته

راغلم ډیره خفه او مایوسه وم ځکه چی سحاب راسره

نه وو هرکله چی کانټین ته راغلم هلکانو ویل نن يي

سحاب وړی دی.

دوی چی به هر نفر بوتلو بیرته هغه نه راتلو ما دیو

بل هلک نه پښتنه وکړه چی دوی پدی باندی څه کوي

خو هیڅوک هم نه پوهیدل چی دوي دغه هر هلک

چی په جمعه کی یو دانه بوزي پدی باندې څه کوي.

ماته تشویش پیدا شو او دسحاب نه بغیر می یوه لمحه

هم نه شوه تیرولای ځکه نو راووتم تر څو سحاب پیدا

کړم.

زموږ دکانټینر شاته دی خلکو خپل ځان لپاره

هستوګنځې جوړ کړی وو ماچی وکتل پدی ځای کی

دوي سرايي موسيقياني لګولي وې ټول پخپلو نشو کې

بوخت وو دچا مخې ته پياله پرته وه او دچا مخې ته

بوتل او دچامخې ته چيلم دوي هغه هلکان چې به يي

هره ورځ بوتلل همدلته به يي ساتل پدې هلکانو کې به

يي خايسته هلکان راټولول او دجنسي غريضي پوره

کولو وسيلي به يي ترې جوړولې .

فکر کووم سحاب يي هم همداسې بوتللی وو پدې

خلکو کې مې ډيرې سترګې واړولې راواړولی خو

سحاب مې په نظر رانغی دامهال ديو موسيقي

اوريدونکي پام زما طرف ته راواوړيد چې يي وکتم

ټولو نفرو ته يي امر وکړ چی داماته راولی زه ډیره په

منډو تری کانټینر ته ولاړم خو هغوي راپسی وو ما

پخپل کانټینر کی ځان په خوب واچاوه خو هر کله چی

نفر راغلل ټول هلکان او انجونې راویخی شوی دوی

زه لټولم او اخر يي پیدا کړم په زوره يي دخپل

شکیدلي کمیس دولي نه ونیولم او نور يي هم راته

وشکولو زه دامهال پوره دځوارلسو کالو شوی وم او

پیغلی کیدو ته می بیا هم وخت وو.

زه سیده راوستلم د قومندان مخی ته يي کینولم قومندان

چی زه وکتلم ویل يي ریشتیا راته ووایه ولی راغلی

وې که دی ریشتیا وویل پرېږدم دی کنه بیا رانه نشی

خلاسیدای.

ماهم ورته ریشتیا وویل چی زه دخپل ملګري سحاب

دکتلو پسی راغلی وم.

ویل یي ګوری یی ماورته وویل هو ویل یي رازه په

همدی کوټو کی یي دننه بوتلم په اخر سر کی داسی

ځای وو لکه دغره ځمځه نور یي هم وړاندی بوتلم

ددی ځای نه دوینی بوی راته یو ډول دوحشت فضا

پدی ځمځه کی قایمه وه.

ما پدی لاره کی وکتل چی یو کټ یي روان کړی وو

فکر کووم مریض یا مړی پکی وو او لدی ځایه یي

بهر کولو دڅمځی په اخر سر کی یو ځای وو

دډاکټرانو کټ پکی وو او دوه ډاکټران ولاړ وو

.لاسونو کی یي نوسي او کیچي نیولی وه

لاندی چی می وکتل سحاب بی سده پروت وو ما

ورمنډه کړه غیږه می ورنه چاپیره کړه خو دی خلکو

زه ونیولم دډاکټر زما خواته خیال شو قومندان یي یوی

غاړی ته بوتلو او بیرته راغلل ماته قومندان وویل

ګوره ورته ډاکټر دسحاب نه دسحاب سترګی زما په

. مخ کی یوه یوه دانه وباسله

😭 😥اوف څومره دردوونکې منظر

مادهغی ورځی نه وروسته بیا خندلي ندي

هرکله چی یي ورځخه سترګی وباسلی بیایي ورته

خیټه سوری کړه او یوه ګورده یي هم ورڅخه

راوباسله

ایله چی وس زه پوهه سوم چی دوی ولی موږ ساتي

ځکه چی دوي دهر انسان دبدن نه یي غړي وباسل او

هغه به یي خرڅول سحاب یي فکر کووم اول نه

وژلای وو او که وژلای یي هم نه وو نو زرور به

وس مړ شوای وي.

دسحاب کیسه یي زما په مخ کی ختمه کړه او زما هغه

اوښکی یو ځل بیا راروانی شوی چی دسحاب په

شتون کی می بندی کړی وی.

درد په ژړا هر سړای پوهیدلای شي خو داظالمان

پری نه پوهیدل ما چغی نشوی وهلای ځکه چی ما

دژړا تمثیل نکاوه بلکی زما دسترګو نه اوښکو بی

اختیاره داری وهلې.

هرکله چی سحاب ختم شو نو ډاکټر زما لاس ونیو

ددی ځای نه شاته یوه غونډۍ وه هلته یي بوتلم ما

قومندان ته ډیری چغی وکړی دلته زما بل پلار نه وو

ماقومندان ته دخپل پلار په نظر کتل خو هغی هم

راسره مرسته ونکړه.

او ډاکټر ماسره دغره په بیخ کی هر کار وکړ زه بی

هوښه شوی وم هرکله چی په سد راغلم نو پخپل

کانتینر کی وم .

لومړی دسحاب مرګ او بیا ورپسی خپل عزت ما په

همدومره کوچني توب کی خپل عزت دلاسه ورکړ

ځکه نو هغه انجونی چی راغوښتکی شوی وی باید

دورځی څلور سوه روپۍ کانټینر ته راوړي.

ددوی له ډلی څخه یوه زه هم وم ما نور هیڅوک

دخپلی تبی پدی کانتینر کی پیدا نکړ خو یوه انجلی می

پکی ملګری سوه هغه نجلا نومیده.

خه انجلی وه یوه خه ملګری می وه دهر راز ساتونکی

وه او په ما چی به سخته راغله خپلی سختی کیسی به

می ټولی نجلا ته کولی او هغی به اوریدلی.

خوزه وس فکر کوم چی ایا نجلا به پخپله هم ډیر درد

لیدلو هغی به خپلی کیسی چاته کولی ځکه چی ماته

خویي یوه ورځ هم نه وی کړی.

ددی نه وروسته نو ماسره به دورځی چی ډیری پیسی

وشوی دری سوه به مو پیدا کړی خو هرکله چی به

کانټینر ته راغلو نو وهل به مو خوړل زه پیغله سوی

وم خو بیایي هم زما عزت ته نه کتل او په پیپ به یي

په شا وهلم.

ددی خبرو لیکل ډیر سخت دي زه لیکوال نشم کولای

داولیکم دا د درد نه یوه ډکه کیسه ده خو که کوم بی

غیرته یي وس لولي هم نو خوند به تری اخلي.

دپنځلسو کالو سوم فکر کووم دامهال پیغله سوی وم

خو څلور سوه روپی پیدا کول دورځی ډیر سخت وو

یوه ورځ دشپی تر ناوخته پوری وګرځیدم یو سړي

پخپل څنګ کی کښینولم ویل یي زه پوهیږم چی په

تاسو څومره سختی تیریږي.

خو که ته یي موږ ته ووایي تا به تلویزیون والا

وګوري او ته به ډیر ژر ازاده سی خو ماچی فکر

وکړ او دکانټینر وهل می ذهن ته راغلل او دقومندان

خبره چی ویل یي که هرچا ددی ځای خبره بیرون

. وکړه نو دلته یي په چاقو دری ځایه وهم

یو نفر یي هم وهلی وو دسحاب دمرګ نه وروسته یي

هغه انسان هم وژلای وو خو ماته یي فرق نکاوه زما

فکر پدی طرف روان وو چی که سحاب مړ کیږي نو

بیا که ټوله نړی هم ختمیږي ختمه دی شي ماته هیڅ

تو پیر نکوي.

ځکه نو ما دی سړي سره دخبروکولو ځخه ډډه وکړه

او روانه شوم خو پیسی می پوره نه وی دامیر شهید

باغ وو دشپی اووه بجی وی یو هلک راته وویل پیسی

دي لکه چی ندي پوره کړي زه حیرانه سوم چی

. داځنګه پو هیږي چی ماپیسی ندي پوره کړي

راته یي وویل حیرانیږه مه ستا پشان ډیری انجونی

دلته راځي که غواړي چی هره ورځ دی پیسی پوره

کړی نو دلته رازه هیڅ سوال مکوه ته به ټولی پیسی

له همدی ځایه وړی بلکی ډیری به وړی ته خپله

سرمایه هم جمعه کولای سي هر کله چی درسره پیسی

ډیری سوی نو خپل له دوي څخه وتخته او خپل کور

ته لاړه شه.

داوګوره زه درته وس هم دا پنسدې درکووم یو څو

لحظی راسره تیری کړه او بیا وروسته دی پیسی پیدا

کړه اوزه

داخبره خه وه خو داکار کول لوی زړه غواړي دخپل

عزت دلاسه ورکول هره ورځ مړه کیدل او ژوندي

کیدل دي.

داسی کارونه دپښتنو په ژوند کی هیڅکله هم نشي

کیدای یوه ورځ په گمرک جماعت کی دسوال لپاره

ناسته وم تر څو خلک راته سوال راکړي.

هرکله چی دمازیګر جمعه وسوه نو خلک تلل ډیرو

هلکانو شیخانو او خلکو زما په کچکول کی د پیسو پر

ځای یو یو کاغذ واچاوه .

ماچی مکتب تر دریمه ویلی وو نو خط باندی هم

پوهیدم دی هر نفر راته په ورقه کی د بالا خانی بلنه

لیکلی وه.

چا پکی موقعیت سپینه ماڼی لیکلی وه او چا گرین هټ

زه ډیره بد رنګه وم خو فکر کووم ماته خپل ځان

بدرنګه ښکاریده دخلکو په نظر کی بدرنګه نه وم.

یو ځل خو می پریکړه وکړه چی رازه وربشم زما نو

ځوک دي امکان لري همالته راباندی ځوک مهربانه

شي او تر خپل کوره می ورسوي.

خو بیا به پخیمانه سوم زه یوه ورځ مکتب ته ولاړم په

مکتب کی فکر کووم درياضي ساعت شروع وو ما

دیتیمی ورقه جوړه کړی وه هر کله چی استاذ دغه

ورقه ولوستله نو زما په حال پوهه سوه.

خپلو ټولو شاګردانو ته یي زما دژوند حقیقت ووایه زه

نه پوهیږم دلته ټول خلک پوهیدل چی دلته په انسانانو

دومره سختي تيريږي خو بيا هم چا زموږ لاسنيوي

نکاوه.

ددرد نه ډک ژوند وو خو خير بيا هم زه د خپل رب

څخه شکر ګذاره وم ځکه چې سترګې خو لرم ددنيا

ډير نعمتونه خو راسره شته هم دی.

بل اخره داسی ورځ هم راغله چې په جماعت کی راته

دوه نفر کښيناستل او يو راته په ګيده توفنګچه کيښوده

اوبل راته وويل مخکی شه.

زه به داظلم چيرته يوسم ای دننګر هارغيرتي ولسه

تاسی په هغه ورځ چيرته وئ چې زه يي په زور له

جماعته وباسلم يوڅه نفر خو پوه هم سول خو ځان به

. يي كښولو

زما په ګيډه يي داسی توفنګچه ايښی وه چی چاته نه

معلوميده يو لاس يي راباندی اچولی وو او لنكروزر

.موټر ته يي په زور ورپورته كړم

زه يي يوی دښتی ته بوتلم هلته پوره اتلس نفره يي زما

په انتظاركينولي وو ددی ټولو نه توفنګچی والا زما

په سر پيسی واخيستی او هر نفر راته او ماسره به يي

خپل وحشي عادت پوره كاوه زه دومره زياته خرابه

.شوم چی دخوځيدو طاقت راپاته نسو

ځکه يي نو زه په موټر کی واحولم او سیده يي

دواخانی ته راوستم او هغه بی غیرته انسانان راځخه

وتختیدل ماچی ډاکټرانو ته وویل هغوي وویل کاش

. مخکیدی ویلي وای

.موږ نه به هغوي نه وای تللای

پوره ټوله ورځ می همدلته روغتون کی تیره کړه خو

په اخره کی راسره ددرملو پیسی هم نه وی او

دروغتون هم ډاکټر وویل زما پیسی خو زه خیر خو

.ددرملو پیسی خو باید ورکړی

زه خو دځلور سوه پوره کلو په فکر کی وم ځکه می

ډاکټر ته هم وویل حی زما ځلور سوه روپی نوری هم پکار دي .

خوډاکټر هم راته دیو ښکار په نظر وکتل ویل یي زر روپی به نوری درکړم خو ماورته وویل خو چشی .ویل یي باید یو څو لحظی ماسره هم تیری کړی

ویل یي هغه نورو سره دی مفته تیری کړی او زه درته پیسی درکووم بله لاره نه وه ځکه چی قرضداره یي هم وم او ډاکټر هم خپل قرض په همدی تخت کی .پوره کړ او زر روپی یي راکړی

زه ژر کانتینر ته راغلم او خپلی پیسی می ورته

. وسپارلی او ارامه بیده سوم

خو د يو څه وخت وروسته راپسی دکانتینر عسکر

راغلل په زوره يي راپورته کړم او قومندان ته يي

بوتلم.

قومندان وويل :ته بايد نور زموږ لپاره په بل ډول

پيسی وګټی زما لپاره يي خايسته ځای جوړ کړ

سینګار خونه هر څه پکی وو خایسته جامی همداسی

مطلب هر نعمت پکی وو چی تر اوسه مافکر نکاوه

چی زما لاس ته به رشي.

دايي ددی لپاره زما دومره عزت وکړ چی خلک

راباندی خپله ګرمه خوله تویه کړي او زه هره ورځ

مړه او ژوندی سم.

زه له کانتینر څخه وتختیدم.

زما له دی کار څخه نوره کرکه پیدا سوی وه ځکه نو

زه دکانتینر څخه وتختیدم خو چیرته به تللای وای

هغوی زموږ په لاس کی یو ساعت اچولی وو او ویلي

یي وو که هر چا داساعت دلاس نه لری کړ نو همالته

به ورپسی عسکر ورځي ما ساعت لری کړ او چی

څومره می منډه وهلای سوه ومی وهله خو اخر هم

راپسی عسکر راغلل.

او ویي نیولم مخی ته می دملي اوردو عسکر راغی

ماورته چغه کړه چی ای وروره دوي ماوژني خیردی

ما تری بچ کړه داعسکر ریشتیا هم چی دپښتنی

میرمنی بچی وو.

عسکرو سره یي په یواځی ځان ډغره ووهله ټوپک

یي ورپسی وچت کړ عسکرو ورته زاری وکړی خو

ملي اوردو والا نه منله اخر کی نور عسکر ورڅخه

وتختیدل .

دملي اوردو والا راته وویل خوری داڅه خبره وه

ماورته وویل وروره خیر دی مابچ کړه هغوي بیا هم

راځي او ما وژني عسکر وویل خا ته له دی ځایه وس

مه زه ماورته وویل:ولی ویلي یي داسکوپ کی

مخامخ غره ته وګوره ماچی وکتل ګورم ټول نفر اته

ولاړ وو تر څو زه به دی عسکر څخه بیله شم او

هغوي می ونیسي.

ځکه نو زه له همدی عسکر سره په پوسته کی پاتی

شوم.

پوره دوه ورځی می ورسره تیری کړی خدای شته

چی څه به عسکر خوړل پخپله به یي نه خوړل دهغی

زیاته برخه به یي ماته راکوله او لږه برخه به یي

خپله خوړله.

دهمدی ورځی په شپه زما دعسکر خه والی ذهن ته

ودرید .

زما سره نور هیڅ نه وو چی دی عسکر ته یي ورکړم

.

بغیر دخپل خایست نه ځکه نو زه ولاړم او دعسکر په

غاړه کی می ځان واچاوه خو عسکر زه له ځانه بیله

کړم او ویل یي تا زما سره پنا اخیستی ته ژر لاړه شه

خپل ځای کی بیده شه.

زه یو پښتون یم او هیڅکله به هم تاته په بده سترګه لا

. ونه ګورم

. ددی عسکر خبرو می په زړه کی لاری جوړی کړی

بس مطلب ما غوښتل ددی عسکر سره ټول عمر تیر

.کړم داسړی راباندی دحد څخه زیات ګران سو

دهمدی ورځی په سبا زموږ دکانټینر څخه ټول عسکر

راغلل او دی عسکر ته يي دننګرهار والي هم

راوست دوالي نوم نه اخلم که می واخیست تاسی ټول

..يي پيژنئ خو نه يي اخلم

عسکر ورته وویل :زه یو پښتون یم ,دی خورکئ زما

پوستی ته پناه راوړي او که تاسی ددی انجلی پلاران

!"هم شیَ,داانجلی زما ځخه نشیَ بوتلې

والي ورسره کلک شو ددندی دخطر اخطار يي ورکړ

او ورځخه روان شو ټول عسکر هم ورسره ولاړل

دی عسکر ماسره ډیره لویه همکاري وکړه,اوزه يي

😳. ددی ظالمانو ځخه وژغورلم

عسکر ته ډیر ژر دخارجيدو پیغام راورسید او دی

پوستی نور پدی عسکر پوری تړاو نه درلود ځکه يي

نو خپل ټول سامان په شاه کړل او زه يي دلاس نه

ونیوم او روانه يي کړم.

ماورځخه وپوښتل :چيرته ځو عسکر په غوسه ناک

ډول سره جواب راکړ نور چيرته قندهار ته ځو نه

. غواړی چی دخپلی کورنۍ سره وګوری

زما دسترګو څخه دخوشحالۍ اوښکی تويي شوی

پکار هم نه وه خو بيا هم بی پرسانه می عسکر ته

.غاړه ورکړه

او مننه می ورڅخه وکړه چی ما پخپل شخصي لګښت

.کندهار ته رسوي

دشپي دوه بجی دي دانسانانو خاموشي دشرق او غرب

څخه خوره ده ټول ماحول تکی توری تياری په سر

اخيستی وو مخته دلوړو غرونو په سر ديو کلي رڼا

. ښکاریده

.عسکر وویل:باید چی هماغی رڼا ته ځان ورسوو

هغه کلی زموږ لپاره محفوظ دی په همدی شپه له دی

پوستی څخه روان شو عسکر خپله لاسي توفنګچه او

.لاسي بم سره دتیره چاقو په بډه کړل

لږ څه پیاز چی دپخلی لپاره ورسره پاتی وو هغه یي

ماته راکړل ویل یي امکان لري په کار مو شي وچه

ډوډي سمه داسی معلومیده لکه لرګی دایي هم راکړه

. دپوستی څخه مو حرکت وکړ

سخت ساړه می کیدل عسکر خپل بنین له ځانه څخه

لري کړ او ماته يي راپه شاکړ.

دژمي يخه اوږده شپه وه دالومړی شپه وه چی دسحاب

نه بغیر می پکی دخوخۍ احساس وکړ لری په غره

کی به یو نیم کارغه هم اواز کاوه.

نور خاموشه خاموشي خپره وه داسی ښکاریده لکه

دنیا چی دیو چا لپاره خاموشه شوي وي ترڅو هغه

شخص په تکلیف نشي.

پوره دیو نیم ساعت مزل څخه وروسته هم موږ دویم

غر ته ونه رسیدو رینتیا هم چی موږ دپیازو غوټی ته

اړتیا پیدا کړه ,دسترٻیا په وخت کی پیاز ډیره ګټه لري

ما پخپله تجربه کړی ,هر کله مو چی خوړین پیاز د

لرګي پشان دکلکې ډوډۍ سره نوش جان کړ نو یو ځل

بیا روان شو ,تر دوه ساعته مزل وروسته دغه کلي ته

. ورسیدو

په کلي کی ډیر خلک وو خو فکر مو نه کاوه چی

څوک دی دشپی په دوه بجي موږ ته پناه راکړي ځکه

نو بغیر دپیښتنی له دی کلي څخه روان شو دسهار خړه

ورو ورو په ورکیدو وه ساعت پنځو بجو ته نږدی

.کیدونکی وو

دسرک سر ته راووتو خو یو دم پر موږ برید وشو

عسکر تر اخیري حده وجنګید زه دیوی تیږی شاته پټه

وم خو ددرنو ډزو اوازونه می اوریدل.

دالومړی ځل نه وو چی ما دډزو اوازونه اوریدل

بلکی په کانټینر کی هم ما ډیر خلک او ماشومان کتلي

وو چی د وړی غلطی له وجی به ویشتل کیدل.

دانسانانو مرګ ډیر ارزان دی دلته اوف دی ځای کی

یي عسکر وویشت او زه یي یوځل بیا ونیوم.

زما فکر همداوو ځکه نو همدلته کښیناستم او خه ډیر

می وژړل او اراده می وکړه چی وتختم تر څو دوی

می مخامخ وولي او ختمه شم.

خو نه داځل راسره بخت بيداري کړی وه دوی زه ونه

ويشتم هر کله چی می مخ راواړوه ومی کتل چی

دسحاب دپلار سره ټوپک په لاس کی وو.

په لوړ اواز يي راته غږ وکړ اسيا زه يم دسحاب پلار

موږ خو ستا ژغورلو لپاره راغلي وو ته ولی تختي

سخته زياته حيرانه شوم ځکه چی دبد قسمتی انجلی

. بخت رابيداره شو

خو عسکر يي وژلی وو زه په منډه ولاړم ما عسکر

وکوت عسکر راته په ماته ګوډه ژبه ويل :وتخته دوي

. دی ژوندی نه پريږدي ما خپل مسؤليت ادا کړ

اوف سخته صحنه وه یو خوانه بریا دبل خوانه ناکامي

خو نه پوهیږم چی ددی عسکر سره زما څه اړیکه وه

چی دومره پری خفه شوم زه دومره احساساتي شوم

چی دسحاب پلار می په کلکه سپیږه وواهه ,هغه می

. دیومظلوم انسان قاتل وباله

هغه ډیر نرم مزاجه سړی وو ټول عسکر یي پوه سول

چی دوي غلطي کړی هغوي فکر کاوه چی عسکر

ترهګر دی او هغه ترهګر دی چي سحاب او اسیه یي

.تختولی وه

فکر کووم دوي ټول ماپسی ډیر زیات ګرځیدلي وو

. خو دډیر ځنډ وروسته یي پیدا کړی وم

دعسکر مړی یي ځان سره په هایلکس کی واچاوه او

. پخپل کور مو لومړی دعسکر مړی وروسپاره

داسخته صحنه ماونه کتله ځکه چی زه په موټر کی وم

.او دوي دمړي کورنی ته پخپله ورغلي وو

دپښتنی خبره خو داده چی دوی هیڅ زما څخه پښتنه

ونکړه چی په سحاب څه وشول نه یي هم دهغی

دادرس پښتنه وکړه نه بل څه او نه بل څه ماهم وریاده

نکړه ځکه چی دهغی دکیسی کول یو انسان ته ډیر

زور غواړي او هر کله چی ټول په ارامه کښیناستو بیا

به يي ورته وکړم.

ډير ژر دغزني په پلچک ورواوړيدو او په کلار کلار

دکندهار لاره رانږدی کيده په لارو کی ددښتو منظر

ډير سترړی کوونکی دی زه پدی لاره انسان تختونکو

مخکی په پټو سترګو بوتللی وم خو داځل می

سترګيخلاصی وی او په خلاسو سترګو می دهرڅه

ننداره کوله.

دژمي وړيورځی وی ځکه نو په همدی لاره داورځ

تيره شوه او شپه شوه ټول خلک بيده سول ,ديوه

عسکر سره کتابچه وه تری وامی خيسته دسحاب

دپلار په مخامخ چیب کی ډیر ښکلی قلم وو غوښتنه

می یي ورڅخه وکړه هغی هم ونه سپماوه او رایي

کړ.

دخپلی دردوونکی قیصی په لیکلو لګیا شوم ,تر څو

می له یاده ونه وځي.

قیصه می خه پوره ولیکله او دامی وعده وکړه چی هر

لیکوال سره مخه شوم نو خپله کیسه به ورکووم.

دسبا ستوري راوختل موږ هم دارغنداب یخه او

خوندوره هوا نوش کړه دلته دانسانانو غالمغال دپخوا

په څیر وو هره خوا خوښي قایمه وه انسانانو خپل

ژوند دپخواپه ښیر پر مخ وړه زه چی هر کله دموټر

ښخه راکیوتم نو یوی وړی ماشومی راته لاس ونیو او

په ډیره عاجزانه ډول یي راڅخه غوښتنه وکړه چی

.تروری یو لس روپۍ خو راکه

زما خپل خراب وختونه بیا ذهن ته راغلل پو هه سوم

چی ددی انجلۍ ژوند هم زما په ښیر دی سخته ژړا

. راغله خو هیڅ می هم دوسه پوره نه وو

یو جمپر راسره وو دی انجلی ته می ورکړ تر څو

دیخنۍ ګذاره پری وکړی او ورته می وویل همت مه

بایله یوه ورځ ضرور له دی زندانونو ځان خلاص

.کړه او خپلی کورنۍ ته ولاړه شه

وختم موټر ته خپل یو یو یادګار ډنه ته راته او د

کتابچی په کاغذونو می رنګاوه په کانټینر کی دسحاب

سره مینه بیا دهغه مرګ بیا زما سختۍ دجومات

خیرات ټولول دپنځوسو روپو لپاره دعزت دلاسه

ورکول دډاکټر ظلم او همداسی نور ډیر څه خو وس

.می سختی ورځی پای ته رسیدلي وی

ځکه نو دیته بی صبره وم چی پلار می وګورم مور

می وګورم دهغوي سره کښینم یوه شیبه ورسره

وخاندم هغوي می چکر ته بوزي لکه دنورو ماشومانو

.په رقم راباندی شخصي مکتب ووايي

زما فکر لاهم دکوچنيانو وو ځکه چی ماته تر اوسه

داسی څوک نه وو چی نصيحت وکړي دسحاب پلار

ته می دخپل کور ادرس ورکړ موټر يي زموږ

ددروازی مخی ته ودراوه موټر نه راکيوتم ګورم

.زموږ دکور دروازی ته قلف پروت دی

زه نه پوهيدم چی مور اوپلار به می چيرته تللي وی

خو دسحاب پلار زما پلار پيژانده ځکه يي نو راته

وويل هرکله چی ته ورکه شوی نو ستا پلار داکور

پريخود هغه تاپسی هره کوسه ولټوله هغی ددنيا هر

ګوټ خپلی لور پسی ولټاوه هغه کډه هم ننګرهار ته

یوړه ترڅو تا پیداکړي خو ته یي پیدانکړې هغه اوس

. مهال په ننګرهار کی اوسیږي

کاش چی زه خبر وای چی ته دیاسین ماما لور یي مابه

هملته ننګرهار کی پری سپارلی وای خو تاماته ونه

ویل ماورته وویل نو تاسی ماپسی چا رااستولي وئ

ویل یي نورچا موږ ته سحاب وویل چی ننګرهار کی

. اسیه بنده ده هغه وژغوری

زما ژبه بنده بنده شوه څه څه س سحاب ژوندې

دی.

ویل یي هو سحاب ژوندی ایا ته خبره نه یي ماورته

وویل:داتاسی څه وایي دسترګو څخه می اوښکی

ولاړی دسحاب پلار ته می وویل خیر دی صرف

یوځل راباندی سحاب ووینه بیاکه مړه هم شم پروا

نشته ویل یي سمه ده رازه چی ځو.

دسحاب پلار زه بوتلم وخپل کور ته سحاب په کټ کی

پروت وو سترګی یي نه وی نور رک روغ وو

زه ورتر غاړی وتم دنش سترګو نه یي اوښکی توی

شوی ډیر دخوشحالۍ نه ډکه صحنه وه سحاب ژوندی

وو دشپی یي سیرلی پخ کړی وو په خیټه کی یي

وريجی ورته اچولی وی لږه لږه برخه تری هر چا

ځان لپاره بیلوله دسحاب مور پاسیدله او دسحاب

لپاره يي غوښه بیلوله ماورڅخه چاړه واخیسته او

پخپل لاس می سحاب ته ورکړه او ورته می وويل:ته

خبر يي سحابه زه به مړه شم خو دبل چا په نامه به

نشم بغیر ستانه.

سحاب وويل:لیونۍ داته څه وايي ته لاړه شه ځان

لپاره يو خایسته ځوان پیداکه زه خو امکان لري نن يم

اوسبا نه اخيری کلمه يي دژړا نه په ډکو الفاظو وويله

ماورته وويل بس سحابه نور نه پوهيږم خو زه که

واده کووم نو صرف ستاسره ټول پوه سول چی

سحاب او اسیه یو بل سره مینه لري.

دشپی ناوخته دسحاب پلار زما پلار یاسین اکا ته

زنګ ووا هه اوخبری یي داسی پیل کړی.

سلامونه یاسین اکا جواب یي وذکړ ورته یي ویل اکا

هغه تاته چی مادیوی انجلی خبره کړی وه چی سحاب

ویل چی ویي ژغوری هغه مو وژغورله.

ویل یي خا ډیرخه مبارک دی وي.

دسحاب پلار شیرین اکا ورته وویل:خا تا ښنګه وکړل

لور دی پیدا کړه کنا ویل یي نه ولا ډیر خفه یم بیخي

. خودکوشۍ ته ورنږدی سوی یم

ډیرو خلکو راته دلته ګمرک جماعت خودلو چی هلته

به یي پیداکړم خو پیدا نشوه زه اصلي کانټینر ته هم

پسی ورغلم حو واوره شیرینه وروره ترڅو چی می

خپله لور اسیه نه وي پیداکړي ما قسم کړی چی

.ارغنداب ته نه درزم

شیرین اکا ورته وویل:نه داسی مه وایه سبا زما دځوي

سحاب کوژده ده اوته به ضرور راځی زه هکه

.حیرانه سوم چی کوژده یي وس دچاسره سوه

خو شیرین اکا ډیر زور پری واچاوه او هغی هم

ورسره ومنله زما پلار دهمدی ورځی په سبا راغی

هغه خپل بیګ ددروازی په سر کی کیښود مخامخ زه

ولاړه وم زه چی يي وکتلم دهیبت اوښکی يي په مخ

راماتې شوی ددولسو کالو ورکه شوی لور يي پیداکړه

یو دم می پلار باندی دډیری خوشحالۍ ضعف راغی

خلکو پری اوبه واچولی.

هغه زماپه مخ لاس کش کړ بیايي زما ویختانو کی

ګوتی ووهلی ددرد نه ډکی اوښکی يي توی کړی بیا

زما غاړی ته راپريوت او په چغو چغو يي وويل چی

لوری ماپه ننګرهار کی ډیر ارمانونه کړي .

ته باید ما داسی ساتلی وای لکه خوله کی ژبه خیر دی

لوری ماته ښنه وکړه زمالاسونه یې ښکل کول.

ریشتیاهم چی دپلار مینه زما لپاره ډیر وخت

اوډیر وخت وروسته می لاسته راوړه زما پلار

دشیرین

اکا سره دسحاب ریشته ومنله اوپه ریشتیاهم په

همدی ورځ زما اودسحاب کوژده وسوه.

خو زمابه هغه سختی هیڅکله هم له یاده ونه وزي

.کومی چی ماپه کانتینر کی تیری کړی

مادماشومتوب ژوند دوحشیانو سره تیر کړ داواقعا

ډیره سخته ده ماوس دسحاب سره واده کړی خو

سحاب پخپله داپریکړه کړی چی هغه به زماپلار سره

وسیږي ځکه چی زما پلار څخه زه ډیر وخت لری

پاتی شوی وم اوپلار می زه هیڅکله هم دځان څخه نه

جداکولم زما مور پخوا مړه شوی وه ځکه نو مابیخي

.دمور مینه کتلی نده

وس پدی ورځو کی لږه څه وزګاره وم ځکه نو ومی

غوښتل چی دخپل ژوند سخته کیسه دیولیکوال سره

شریکه کړم او هغه یي تر هغو افغانانو وروړسوي

چی هیڅ غم اودرد نلري بیا هم خفه دي ای افغانانو

خوشحاله سئ تاسی دپاچاهی ژوند تیروئ.

زه نه هم خپل اصلي نوم پدی کیسه کی خایم او نه هم

خپل اصلي ځای بس دادلیکوال کار دی چی زما

. اصلي ځای او نوم څه ورکوي

ما ابل پرون دسحاب څخه پښتنه وکړه چی ته څنګه

ژندی پاتی شوی هغه ویل:زما څخه یي دواړه سترګی

.او یوه ګورده ویستی بس قسمت ژوندی پاتی کړی یم

په هماغی ورځ چی تازه کتلی وم هماغه ورځ می زه

خپل پلار پیداکړی وم او له هغی ځای څخه یي په

زور راوباسلی وم زما تداوی پوره څلور کلونه

ونیول.

خو شکر وس خه سوم زما پلار داوعده کړی وه که

یوه کوټه پیسی هم ډاکټران وغواړي نو هغه یي

ورکولو ته چمتو دی.

هغی نه اکټرانو خه په تول برابری پیسی واخیستی

اوزه خدای خه کړم.

مابیاتر دوه کالو پوری خبری نشوی کولای خو هر

کله چی په خبرو راغلم ماپلار ته خالي ستانوم اخیستی

.او هغوي ته دلته راوستې

پای

په اخر کی یو ځل بیا مننه دسادات څخه چی زما دغه

کیسه یي په فري ډول ستاسی تر حضوره پوری

دروړسوله.

---



لیکوال:سیدادریس سادات

زما پلار دشیرین اکا سره دسحاب ریشته ومنله اوپه ریشتیاهم په همدی ورځ زما اودسحاب کوژده وسوه.

خو زمابه هغه سختی هیڅکله هم له یاده ونه وزي کومی چی ماپه کانټینر کی تیری کړی.
مادماشومتوب ژوند دوحشیانو سره تیر کړ داواقعا ډیره سخته ده ماوس دسحاب سره واده کړی خو سحاب پخپله داپریکړه کړی چی هغه به زماپلار سره وسیږي ځکه چی زما پلار څخه زه ډیر وخت لری پاتی شوی وم اوپلار می زه هیڅکله هم دځان څخه نه جداکولم زما مور پخوا مړه شوی وه ځکه نو مابیخي دمور مینه کتلی نده.

وس پدی ورځو کی لږه څه وزګاره وم ځکه نو ومی غوښتل چی دخپل ژوند سخته کیسه دیولیکوال سره شریکه کړم او هغه یي تر هغو افغانانو وروسوي چی هیڅ غم اودرد نلري بیا هم خفه دي ای افغانانو خوشحاله سئ تاسی دپاچاهی ژوند تیروئ.

---